


# ښاغلی محمد عمر ننګیار د پښتو ادب یوهځاند لیکوال او تکړه طنزلیکونکی

## مرکه کوونکی : انجنیر عبدالقادر مسعود

زموږ د پښتو د ادبیاتو په ډګر کې ښاغلی محمدعمر ننګیار یو له هغو تکړه او ښو لیکوالو، ادبي او فرهنګي ځیرو څخه دی چې په خپلو لیکنو او طنزونو کې یې ټولنیزې ناخوالې، نیمګړتیاوې، ستونزې،

او د افغانانو ریښتیني دردونه په خوږه، سلیسه، روانه او سپیڅلي ژبه په ډېر ښکلي او ظریفانه بڼه انځور کړي دي.

ـ ښاغلی ډاکتر صاحب ببرک ارغند چې زموږ دهیواد یونومیالی، او وتلي ژورنالیست، نوښتګر او نامتوداستان لیکونکي دی، په خپله یوه لیکنه کې د ښاغلي محمد عمر ننګیار د ادبي او فرهنګي شخصیت په اړه داسې کښلي دي :

عمر ننگیار نگینه است

این واقعیت دارد که ادبیات ازشرایط مادی و تاریخی یک جامعه بر می آید و در عین حال بازتاب دهنده همان شرایط مادی و تاریخی نیز میباشد واز سویی میدانیم که هر اثر ادبی ویا بهتر است بگوییم هر نوع ادبی دارنده محتوا و شکل میباشد .همان گونه که محتوا گوناگون هست همان رنگ شکل نیز گسترهٔ متنوع دارد و ایسمهای چون ریالیسم ،ناتوریالیسم ، مدرنیسم ، پسا مدرنیسم و غیره ابزار هایی هستند که جهت ساختن این شکل بکاربرده میشوند وهمان گونه که درونمایه یا محتوای اثر انتقال دهندهٔ ایدیالوژی خوابیده در متن میباشد ، شکل نیز بستر این انتقال بشمار می آید . در جوامع عقبمانده نظیر افغانستان با در نظر داشت مناسبات اجتماعی – اقتصادی – سیاسی حاکم بر زنده گی مردم وموجودیت فقرِ دانش و ستمِ بی سوادی ،لازم میافتد تا هنر مندان به ویژه خالقان آثار منثور از آن گونه افزار و شکلهایی استفاده ببرند که برای مردم قابل درک و فهم بیشتر باشد . به آسانی هضم گردد و در بیداری بیخبران یاری رساند . با در نظر داشت همین اولویت است که نویسنده گان آگاه و متعهد بیشتر به شیوهٔ ریالستی رجوع میکنند تا حقایق تلخ و شیرین جامعهٔ خویش را همانگونه که هست در برابر خواننده گان خویش قرار بدهند و در بیداری آنان سهم شایسته بگیرند. جناب محمد عمر ننگیار هم یکی از همین آگاهان است که با نگارش درامه ها ، نمایشنامه ها ، طنز ها ، فلمنامه ها و سناریو های متعدد با استفاده از مکتب ریالیسم انتقادی ،استعداد پر بار و توانایی خویش را بر ملا ساخته است.

جناب محمد عمر ننگیار دردنیای ادبی اش همیشه تلا ش داشته تا در خدمت مردم و محرومان کشور خویش قرار داشته باشد.

موصوف به حیث یک فرهنگیی که درد مردمش را مانند یک طبیب آزموده و خبره تشخیص داده و راه درمانش را هم میداند، همیشه با افزار دست داشته خویش به خدمت شتافته و از بذل کمک و یاری به ایشان دریغ نورزیده است .جای سرور و شادیست که ادبیات ما چنین شخصیتهای آگاه و خدمتگذار را با خود دارد . من عده یی ا ز نمایشنامه ها و درامه های ایشان را از ورای امواجِ رادیو و اکرانِ تلویزیون شنیده ودیده و ستوده ام ؛ به ویژه اثری زیر نام « تنکی هځې » موصوف را که از حلاوت و دلپذیری خاص بر خوردار است. جناب محمد عمر ننگیار در گستره طنز و طنز نویسی برازنده گیهای ویژه یی دارند که قابل یاد آوریست . در این زمینه بیشتر زحمت کشیده اند و آثار جالب و خواندنیی بر ادبیات ما افزوده اند . من بخشی از آثار ایشان رادر مجله های « آواز» و روزنامه های چون « انیس» و هفته نامه های چون « پامیر » ،« کار » و غیره خوانده و لذت برده ام بیاد دارم که طنز « پردی » که به قلم توانای ایشان نگارش یافته بود برندهٔ جایزه گردید . کار و خدمت همایونی دیگر این قلم بدست برگردان مجموعهٔ طنزی جلال نورانی یکی دیگراز بزرگ مردان عرصهٔ طنز کشور است که به زبان شیرین پشتو بر گردان شده است.

قلم این نویسنده برازنده را تواناتر و عمر شان را طولانی میخواهم . بگذار نگینه ها انگشتر شوند و انگشتان مادر وطن پر از انگشترهای پر بها باشد.

داکتر ببرک ارغند

هالند ،فبروری ، 2013

همداسې ښاغلی کاتب پاڅون چې زموږ د هیواد یو تکړه لیکوال او مخکښ طنز لیکونکی دی په خپله یوه لیکنه کې د ننګیار صاحب د ادبي شخصیت په اړه داسې کښلي دي :

(.... ننګیار صاحب د طنز په نیشداره خو خوږه ژبه په ځینو ناخوالو ډیر غوڅ ګوزارونه کړې دي .

مشهوره وینا ده چې : په شاتو چې مري، نو زهرو ته یې ضرورت نشته ...)

ښاغلی محمد عمر ننګیارپر (1331) لمریز کال کې د کابل ښار په ده افغانانو کې په یوه روښاندې کورنۍ کې د عبدالقیوم خان په کور کې نړۍ ته سترګې غړولې دي .

هغه خپلې لومړنۍ زده کړې په کابل کې او لوړې زده کړې یې د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو او فلسفې په پوهنځی کې پای ته رسولې دي.

ښاغلي ننګیار صاحب پر (۱۳۵۸) لمریز کال د رادیوتیلویزیون د هنر او ادبیاتو د اداري د پښتو ډرام او ډیالوګ په څانګه کې رسما په کار پیل وکړ. ده په دغه اداره کې د راډیویي ډرامونه، د راډیو پرله پسې داستانونه او راډیویي نمایشنامې ولیکلې.همدارنګه یې تیلویزوني نمایشنامې او د لنډو فلمونوسناریو ګانې د یاد او ستاینې وړ دي.ده د یو شمیر نامتو لیکوالو طنزونه په پښتو ژبه ژباړلي دي چې په خپل وخت کې د راډیو تیلویزیون د نشراتي ارګانونو له خوا خپاره شوي دي.

ښاغلی جلال نوراني چې زموږ په ادبي او فرهنګي ډګر کې یو پیژندل شوی لیکوال، خوږ ژبی او تکړه طنز لیکونکی دی په خپله یوه لیکنه کې د ښاغلي عمر ننګیار د ادبي شخصیت په اړه داسې کښلي دي :

(.... عمر ننگیار مانند هارون یوسفی، واحد نظری، وحید صمد زی، کاتب پاڅون، بلقیس مکیز، رازق فانی، دستگیر نایل، فاروق عطایی، بصیر پاکزاد، و حلیم تنویر از طنز نویسان قد بر افراشته در دههٔ شصت است. او موفق شد در محافل متعدد خوانش طنز در کابل شرکت نماید و استقبال از طنز هایش مرا که در آنوقت مسوول بخش طنز در انجمن نویسندگان افغانستان بودم به این اندیشه انداخت که مجموعه یی از طنز هایش را از سوی انجمن چاپ کنیم...)

ننګیار صاحب د (1992) زیږدیز کال نه وروسته په مسکو کې د پردیسی او کډوالې شپې او ورځې تیروي.

د ښاغلي محمد عمر ننګیار د پوره پیژندګلوۍ لپار ما له ده سره یوه ادبي مرکه چمتو کړې ده. ستاسو درنو او قدرمنو د ادب مینه والو دوستانو پام ورته را اړوم.

ننګیار صاحب زما سلامونه او پیرزوینې ومنئ ، اجازه را کړئ چې خپلې پوښتنې پیل کړم.

د سپیڅلي خدای په نامه

مخکې له دې نه چې پوښتنو ته راشم په ځا ن فر ض ګڼم چې دګران دوست او همکار؛ دهنر او ادب د بڼ هڅا ند ملیار ښاغلي انجینرعبدا لقادرمسعود څخه د زړ ه له کومې مننه وکړم چې د خپلو مرکو لړۍ

يي ما پوری را وغزوله ؛ د انجنير صا حب مسعود دغه نوښتګري هڅي زمونږ په اوسمها له کډوال ژوند په تاريخ کي هيواد پاله چوپړ دی چي د زمان په تندی به تل ځليږي.

ګران انجنير صاحب زه ستاسو په خدمت کي يم.

ډيره مننه .

پوښتنه : تاسي د خپلو ادبي او هنري آثارو په ليکنو کي ځان ته کومه تګلاره لرئ، او په دې لاره کې مو څنګه خپل استعداد ته پام شو. لومړی هڅونکي مو څوک و؟

ځواب :

څر نګه چي ليکوال ؛ شا عر او هنر مند د ظر يفو عواطفو او احسا سا تو خا وند دی په ټولنيز ژوند

کي د بل هر چا څخه ژر د حا لا تو او پيښو څخه اغيز مند کيږي او بيا دخپل ادبي هنري احسا س په

ملګرتيا غبرګون څرګند وي چي دغه غبرګون د شا عر، ليکو ال او هنر مند په ټولنه کي دهغو د

ټولنيز موقعيت او انګيرنو څخه سر چينه اخلي او فکري لوری يي ټاکي ؛ نو ځکه خو په هنري او ادبي پنځونو کي زما فکري تومنه دخپلي ټو لني د حالا تو او پيښنو څخه پردی نه ده پا تی شوی ؛ ټو لنيز و

او فردي ناخوا لو او نيمګړتيا وو ته په هنري انداز او ادبي ژبی ګوته نيول او دخلکو پا م ورته

راګرځول دا د رسا لت لرونکي ليکوال ؛ شا عر او هنرمند تګ لوری دی . ما د دغی رسا لت په پام

کي نيولو سر ه د دخپلو لوړو زده کړ و په اوږدو کي او بيا د راديو افغا نستان دهنر او اد بيا تو په اداری

کي دهنري اوادبي فعا ليتو نو په لړ کي کله چي به مي د باندنيو ليکوالو ليکلي طنزونه پښتوژبې ته

ژبا ړل او بيا به مي تری راديويي نند اری جو ړولی ځان وازمايه ؛ ويلی شم چي خدای بخښلي

امين افغا نپور او ښا غلي جلال نوراني زما هڅوونکي وو .

د لرغوني يونا ن او روم څخه بيا تر ننه د طنز ليکنې دوه ډوله تګ لوری پيژنو :

الف:هغه طنزي ليکني چي نيوکی يي ترخي او قهر جن دي او ډير لږ ظرافت په کي کاريدلی وي .

ب: هغه طنزي ليکني چي نيوکی يي دوستا نه او عا طفي دي او ډيره کچه د ظرافت عنصر

په کي په پام کي نيول شوی وي .چي دا د لرغو ني روم طنز ليکونکي (هو راس) تګلاره ده.

دا دوه ډوله طنز ي ليکني د لرغوني روم د نا متو طنز ليکونکو (هوراس) او (جو و ينا لی) په

ليکنو کي لوستی شو ؛ زه هڅه کو م چي (هو راسي) تګ لوری خپل کړم.

پوښتنه : طنز څنګه راپيژني (تعريفوئ)، د طنز په ليکلو کي کومې ځانګړتياوې، اساسي فاکتورونه او معيارونه بايد په پام کي ونيول شي؟

ځواب :

طنز هغه ادبي هنري پنځونه ده چې دخندا او ټوکی په جا معه کې د نوش او نيش تومنه ولري فردي او ټو لنيز فسا دونه او عيبونه خلکو ته د پوهاوی او خبر يدو له پاره په ښکلي هنري انداز دخپلې اندازی څخه ستر وښايي او خپله د عا طفي څخه ډک پيغا م لوستونکو په ذهن کې د منلو وړ وګرځوي .

نيوکه او خندا دطنز اسا سي يا بنستيز ارکا ن دی چې د دې دواړو دپيوند او شتو ن څخه پرته طنز نه رامنځته کيږي ؛ که چيرې په يوې ليکنی کې نيو که شتو ن ولري خو دخندا عنصر په کې نه وي ويلی شو چې دا ليکنه انتقا دي ادبياتو پوری تړاو لري خو طنز نه دی همد ا شا ن که چيرې په يو اثر کې پرته له نيوکی ؛ خندا او ظرافت کاريدلی وي دا اثر بيا هم د طنز ليکنو د منل شوو اصلو سره سمون نه لري ؛ پا تی دې نه وي چې پرته دخندا اونيوکی دطنز نور فرعي عنا صر و لکه تخيل ؛ فا نتا زي غندنه ؛ او لفظي صنا يع دي چې طنز ليکونکي ورنه په خپلو ليکنو کې کار اخلي .

پوښتنه : ستاسي په اند کوم طنز د فورم، شکل، محتوا او موضوع له پلوه ښه هنري طنز کيدای شي؟

ځواب :

زما په اند که چيرې په يو طنز کې هغه فکتو رونه چې د طنز پيژندونکو دنظر په يوالي سره منل شوی دی لکه نيوکه . ما لګينه خندا . مبا ليغه او فا نتا زی شتو ن ولري د ظرافت او نيوکی تر منځ يې اند ول په پام کې نيول شوی وي هغه ښه طنز بللی شو .

پوښتنه : تاسي د طنزونو ډولونه د موضوع او منځپانګي له مخې څنګه څيرئ؟

ځواب :

په لنډ ه تو ګه ويلی شم چې طنز په بيلا بيلو ادبي . ژور نا ليستيک او هنري قا ليبونو کې خپله موخه تر سره کوي چې دا قا ليبونه په لاندی ډول ښودلی شو :

- ادبي طنز : په دې ډول طنز کې ستو نزی ؛ کمبودی او نيمګړتيا وی دډ يرو ظريفو نيوکو په مټ د ادبي تصنيفا تو لکه رمز؛ کنا يې او اسطو رو څخه په ګټه اخيستلو سره ليکل کيږي.

په ادبي طنز کې ډ ير ځلی د اثر په ژور والی او منځ پانګی تاکيد کيږي نيوکه يې ژوره او دخندا او ظرافت عنصر يې دموضو ع په ژور تيا کې نغښتې وي .

- ژورنا ليستک طنز : په ژور نااليستيک طنز کې دادبي طنز په خلاف دنيو کی وړ پديده يا څيز په بر بنډ ه تو ګه داسې بيا نيږي چې په هغه وخاندو او ياېي د خندا وړ وګرځو.

چي په دي بر خه کي ( رپليکا ر ) په نامه ژانر د ژورناليستک طنز يو ه ښه بيلګه ده .

ـ انځوريز طنزو نه : څرنګه چي دنامه نه يي جوتيږي چي طنزي موخه يي په ننداريزی بنی دخلکو دپوهاوی او هغو کي د منفی پديدو په وړ اندی دغبر ګون داحساس را پارول دي چي مونږيي په کارتون سينيما تياتر او نورو انځو ريزو هنرونو کي ليدلی شو .

پوښتنه : ژبني او انځوريز طنزونه د شکل او فورم له پلوه څه ډول ارزوئ؟

ځواب :

طنز په بيلا بيلو ادبي، هنري قالبيونو کي د اصلاح يا سمون مو خه په مخ کي لري څرنګه چي د مخه مو وويل ژبني طنزونه دنثر او نظم په قالبو نو کي وړاندی کيږي او انځوريز طنزونه دکارتون . سينما او تيا تري ننداړو کي ليدونکو ته وړاند ی کيږي چي هره يوه بيلګه يي دټولنی دوګړو دپوهاوی دکچي په اندول اغيزه شيندي . په لنډه تو ګه ويلی شم چي ژبني طنزونه دټولنی لوستی برخی ته او انځوريز طنزونه بيا دټولنی په نا لوستو وګړو اغيزه شيندي.

پوښتنه : هره ليکنه ځانته خپله ژبه لري . د بيلګي په توګه د علمي ليکنو ژبه، د تاريخي ليکنو ژبه، د مقالو ژبه، همدارنګه طنز هم ځانته ځانګړي خپله ژبه او سبک لري . تاسي په دي تړاو څه نظر لرئ؟

ځواب :

وايي طنز په خو ږو کي دترخو تيرول دي . دا په دي معني چي د طنز ژبه خوږه ده چي په ډير ظرافت دنيوکی تر يخوالی په خو ږو رمزونو او کنا يو کي مخا طب ته دمنلو وړ ګرځوي او دسمون اراده په کي راټو کوي . طنز په هر فورم کي چي وي بايد پا که او سو چه ژبه ولري تر څو د ( ايرونی) يا رټنی پيتی په خپلو اوږو بريالی موخی ته ورسوي .

پوښتنه : زموږ يو شمير ليکوالو په خپلو آثارو کي په ډيره خوږه ، سليسه ، روانه، سوچه او سپيڅلي ژبه د خپلي ټولني ناخوالي، نيمګړتياوي او ستونزي په زغرده بربنډي کړي دي تاسي په ټولنه باندي د هغه اغيز او اهميت څه ډول ارزوئ؟

ځواب :

دټولنی پر ناخوالو او نيمګړتياوو نيوکی تو لنيز شعور راويښوي او سمون لوری ته يي هڅوي . ښاغلی (عبدا لنا فعی همت) د استا ذ حبيب زي د (طنز ا و خندا ) دليکني په سر ليک کي څه ښه ليکلي دي : [ خلک د وچو ويناوو خطابو او نور و رډو خبرو د اوريدو څخه ستړي شوی دي ښه به وي چي دغه ويناوو او ليکنو ته د ظرافت بوره ورګډه شي چي هم دخلکو خوله خو ږه شي او هم يي درملنه وشي ] . زما په اند که ستو نزی او نيمګړ تياوی په زغرده بر بندی شي پر خلکو به

یي اغیزه دهغو لیکنو پر پرتله لږی وي چي په نا سیده  او رموز کي په خو ږه ژبه لیکل کیږي .

پوښتنه : ټوکي ټکالي او طنز څه توپیر لري؟

ځواب :

طنز دسمون په موخه لیکل کیږي او ټولنی ته په خپل ظرافت کي پیغا م لري . خو ټوکه یوازی

دخندا  په موخی کیږي کوم دسمون پیغام  له ځانه سره نه لري

 طنز مجازی او حقیقی مانا لري  خو ټوکه ددغو ماناو څخه  بی برخی د ه

طنز اخلاقي ارزښتونو ته ژمن وي خو ټوکه بیا هیڅ راز ارزښتونو ته ډیله نه وي .

ټو که یو نا لوستی سړی ویلی شي خو طنز چی دټولنی ژوره څیرنه غواړي نو هغه څوک

چی دخپلې ټولنی څخه پخه پیژندګلوي ولري اود طنز په اړونو پو وي طنز  هستولی شي .

پوښتنه : طنز او کمیدي څه توپیر لري؟

ځواب :

په کومیکو ادبیاتو اوهنرونو کي خندا او خندول مو خه وي لیکوال دخلکو د ستو مانتیاو او خپګان دلیری کو لو  د پاره کمیډي لیکنی  کوي چي په تمثیلي هنري تو ټو کی یا لنډو هنري فلمو نو کي د

کومیک هنرمندانو په لوبیدو سره د دغو لیکوالو موخه چي خندول او ښاد سا تل دي تر سره کیږي .

خو په طنزي لیکنو کي څرنګه چي خندایی یو د اساسی ارکا نو څخه شمیرل کیږي خودا  خندا د دي موخی له پاره نه ده چي یوازی خلک وخندوي  بلکي اصلي موخه یي دا ده چي دغه نیمګړتیاوی او

ستو نزی دخپلو عا میلونو سره خند نی کړي او دخلکو په ذهنونو کي یي وټکوي .

پوښتنه : پوهاندډاکټرمجاور احمد زیار طنز ژانر(ځېل ) ګڼي اوپه خپله یو لیکنه کي یي داسي کښلي دي:
(.... دا د طنزو هغه کوډګری اوجادوګری ده چي نور ادبی ژانرونه (ځیلونه) یي په ټول ښکلاییز،
ننداریز او سندریز پرداز او راکښون سره سیالي نه شی کولای ...)

تاسي په دې اړه څه لید لرئ؟

ځواب :

د طنز څخه زما د درونډ او عزتمند استاذ دغه هر اړخیزه څیرنیزجا ج او بر داشت چي تر اوسه مي

د طنز پیژند نی په هکله د بل چا څخه داسي ښکلي انځور ندی لوستی ډیر په ځا ی  بولم په رښتیا هم

دطنز سحر ګر ژانر په هنري ادبي او ژورنالیستیک بیلا بیلو قا لبیو نو کي خپله خبره د نیش او نوش

د تومنی په لرلو سره د تو لنی بیلا بیلو کته ګوریو ذهینتونو ته د منلو وړ ګرځوي چي دا پخپله دطنز کو ډ ګري ده .

پوښتنه : طنز د پښتو ادبیاتو په لرغوني، کلاسیکه او منځنی پېر کې زوړ تاریخ لري . د کومو لیکوالو او شاعرانو په لیکنو کې طنزي توکي او عناصر زیاتره شتوالی لري او د پام وړ دي ؟

ځواب :

د پښتو ادب د لرغونی  او کلاسیک دور لیکوالو او شاعرانو په خپلو پنځونو کې خپل دوخت

نا خوالی او مظا لم رټلی دي  چې ډیر ځلی دغه رټنی او نیوکی  یې دهزل او  هجو په قا لیبونو

کې  مو نږ لوستی شو . خوهغه څه چې دننی طنز د تعر یفا تو سره سمون ولري ما نه دی لوستي.

طنزی لیکنی د شلمی پیړی راوروسته دخپلو منل شویو ارکا نو سره چې هغه نیوکه – خندا  - فانتازي او مبا لغه ده رواج موندلی دی تر  هغه ځا یه چې ما سره مې ذهن ملګر تیا کوي د پښتو

دادب ددغو ستو رو خو شحا ل خا ن ختک ؛ رحما ن با با ؛ حمید مومند او ګل پاچا الفت په اثارو کې طنزي توکي  ښه ترا  لو ستلی شو .

پوښتنه : مهرباني وکړئ د خوشال خان ختک، رحمان بابا، حمید مومنداو استاد ګل  پاچا الفت د طنزي شعرونو څو بیلګې راته په ګوته کړئ ؟

ځواب :

خوشحا ل خان ختک ویلی دي :

چې تاو خاربنت ور پا څي نا کراره شي ښور یږي

که لوی وي که هلک وي هر چا  وته قهر یږي

نه پت ګوري ونه شرم نه یې حق وته نظر وي

دخپل میره په غیږ کې زړه یې نورو ته پر قیږي .

رحما ن با با وایي :

مرغه چې دبل غو ښی خوري مردار دی

ځان حلال کړه لکه زانه  شاهین مه شه

حمید مومند لیکلی :

قنا عت مې اشتها کړ ه هسې صافه

چې اوکره راکوي خوند لکه  ښوروا

په راتله دخط پایمال شي حسن هسې

لکه وتړي په ګلو څوک غویمنډ

ما رستم دزمانی ولید په سترګو

چي ديار دجوره ژا ړي لکه کونده

خدای بخښلی ګل پاچا الفت چې په نثر او نظم کې یې ډیر ښکلي طنزي اثار  لیکلي دي

لکه شنډه ديمو کراسي ؛ بدلی څری ؛ او نور دځاری  په توګه دا بیتونه یې لولو  :

نن په يو پسی روان سبا د بل پسی ځي

کله په ړيری پسی ځي کله اوربل پسی ځي

بل ځای څه ښه وایي :

د پنو غل خلکو دمخه کړ چې غلا ونکړي

اودس يې نه وو په لما نځه کې شو امام غوندې .

پوښتنه : د پښتو طنز لپاره هم په نثر او هم په نظم کې د معاصرې دورې دوهمه نیمایي ښه د غوړېدو دوره وه، ډیرو لیکوالو او شاعرانو په بره او کوزه پښتونخوا کې په ځانګړي توګه د نثر په چوکاټ کې طنزیه آثار تخلیق کړل . ستاسي په اندپه معاصره دوره کې کومو لیکوالواو شاعرانو خپل شعرونه په طنز وپسولل . مهرباني وکړئ د هغوی د شعرونو بیلګې راته په ګوته کړئ؟

ځواب :

د پښتو په ادبي بهيرکې طنز يو ځوان ادبي هنري ژانر دی چې زمونږ په هيواد کې يې نږدی شپږ

لسيزی او په کوز ه پو ښتونخوا کې يې عمر څه اوږد بر يښي . د (۱۳۴۰) لمريز کلونو راپدی خوا

زمونږ وطنپال ليکوال او شا عران لکه خدای بخښلی ګل پاچا الفت ديو وتلي ليکو ال او شاعر په توګه

پيژنم  په پنځوسمو کلونو کې خدای بخښلی عبدالمننا ن ملګری . ښا غلی ميرعلي و طن دوست .

عزتمند دوست ښاغلی کا تب پا څون چې په نظم او نثر کې يې ښا يسته طنزي ليکنی مو نږ لوستی دي

په شپيتمو کلو نو کې دطنز ليکنی فر هنګ ښه وغزيده ډير شمير ليکوالو په دې برخه کې ځان راو پيژند

لکه : مير زا علم  حميدي . دا کتر واحد نظري . ښاغلی محمود نظري . پوهنمل طلا حبيب ز ی او ما هم

په همدغو کلو نو  کې څه ماتی ګوډی دطنز د سر ليک لاندی ليکلی دي . پا تی دې نوي ښايي په پورتنيو کلونو کې به نورو ښاغلو ليکوالو هم طنزي ليکنی کړ ی وي که ما يي  ليکنی نه وي لوستی بخښنه

غواړم .

پوښتنه : په يو شمير ادبي ژانرونو کې په ځانګړي توګه په لنډوکيسو، ناولو، ډرامو او تمثيلي پارچو کې د خوند او رنګ پيدا کولو لپاره په پراخه پيمانه له طنز څخه کار اخيستل کيږي. تاسي دا کار څه ډول څيرئ؟

ځواب :

دطنز ګو ډګری خو همدا ده کله چې په هر هنري  ادبي اثر کې چې ليکو ال او هنرمند غو ښتی

وي چي خپله موخه دطنز په ژبه تر سره کړي هغه اغيز مند کيږي . په زړونو کيښني ؛ ماغزه روښانه

کوي او مطلب لوستونکو ته دمنلو و ړ ګرځوي  نو ځکه خو ډير ځلی د لنډو کيسو ؛ نا ولونو ؛ ډرامو

او تمثيلي پارچو ليکوال په خپلو هستونکو کې طنزي تو منو څخه ګټه پورته کوي.

پوښتنه : ستاسي په يوه طنز کي چي د (څه چي څو) په نامه ياديږي او په مسکو کې مو ليکلي دی، د افغانانو دردونه، ستونزې، ناخوالې په کې انعکاس موندلای دی. د دغه طنز د ليکلو انګيزه او لامل څه و؟

ځواب :

زما په اند شاعر ؛ ليکو ال او هنر مند دا چي د ظريفو ا حسا سا تو او عواطفو خاوند دی دخپلې

ټولنې دردونه ؛ ستو نزی او نا خوالی دنورو وګړو په پرتله ژور او روښانه ويني او ترې اغيز مند

کيږي او بيا په شعر ؛داستان ؛ انځور يځو هنرونو کې ؛ د تيا تر په ننداړو کې هر يو يې په خپل اړونو

او تک لورو پخلی کوي او ټولنې ته يې وړاندی کوي ؛ ځما دغه طنز ته ورته ليکنی هم دلته په روسيه
کې زمونږ د ګډوال ژوندانه يوه رينښتني هنري بيان دی چي  ما غو ښتی دي دلته زمو نږ دوطنوالو

ستونزی د طنز په ژبه انځور کړ م .

پوښتنه : همداسي ستاسي په يوه بل طنز کي چي د (دا سړی په څه دی) په نوم ياديږي . انورشاه د يو کليوال ساده سړي خو د لوړو زده کړو خاوند په توګه د خپل طنز د قهرمان په توګه انځور کړی دی .دی د مترقي او علمي اثارو په لوستلو دې نتيجې ته رسيږي چي په  خپل هيواد کې خپلو خلکو ته خدمت وکړي، خو کله چي دی مقام او دولتي قدرت ته رسيږي ټولې خپلې موخې او هيلې هيروي . ستاسي په اند په داسي حالاتو کې کوم فاکتورونه دی دې ته اړ باسي چي په ناوړه توګه د قدرت نه استفاده وکړي؟

ځواب :

( په ده څه شوی دي ؟  ) په نامه طنز کی هغه بدله خيره چي د لويد يز د فرهنګ د يرغل ښکا ر

شويدی  او اوس يې کره وره چاپير يال  دکوره نيولی تر کار ځايه  تو ل هک پک کړي ان تر دې چي

کورنيی ګومان کوي چي چا  پری کوډی کړی دي .(  دی خو داسی نه وو !)    هو دا ګوډی هماغه د
پردي فر هنګ دود او دستور په  جامه کي نا موزونه راوتل دي چي ټولنه يي د سالم  عنصر په تو ګه

نه مني او پر ی ملنډ ی وهي ؛ دا ځيري زمونږ په ټولنه کې  لږی نه دي .

پوښتنه : تاسي يو وخت په هيواد کي په راديو افغانستان کي د ډرام او ديالوګ په څانګه کي کار کاوه.مهرباني وکړئ د خپلو کارونو او فعاليتونو په اړه په هم هغه وخت کي په لنډه توګه معلومات راکړئ؟

ځواب :

په کابل پوهنتو ن کښې د زده کړو په ځنګ کي مې دافغا نستان  دراديو تلو يزون د هنر اوادبياتو

دپښتو د ډرام او ديا لوک په ځا نګه کې همکا ري درلوده ؛په نما يشنا مو ؛ راديو ډرامونو ؛ پر له پسی داستا نو نو کې مې دلوبغا ړی په تو ګه خپله هنري تنده ما تولـه چې کا ل دوه وروسته مې

د دغو راديو ډ ارمو نو ؛ پر له پسی داستا نو نو ؛ راديو يی ننداړو او تلو يز ونی ننداړو په ليکلو پيل وکړ . د لته په ځا ن فر ض ګڼم چې دخد ای بخښلي امين افغا ن پور؛ ښاغلی داود فاراني او فريده جاني انوری چې هغه وخت دراديو دهنر او ادبيا تو د اداری مشره وه، مننـدوی ووسم چې په خپلو

لار ښونو يي زما لا س نيوی کړی دی ؛ ما د دوی په هڅونو نړيوالو ادبيا تو سره پيژ ند ګلوي تر لاسه کړه چې ديو شمير با ند نيو ليکوالو ليکلی نما يشنا مې ؛ لنډ ی کيسی . طنزونه د دري ژبی څخه پښتو ته وژ با ړل چې دراديو تلو يزون دهنر او ادبياتو دخپرونو له لاری خپری شوی دي .

دساری په توګه د دغو اثار نو مونه مې په ياد دي چې ما ژ باړلی دي او راديو يی يا تلويزونی خپرونو ته مې چمتو کړی وي . د پاول انتوان چيخوف [دالو بالو بڼ ] دفرانسوی ليکوال مولير دخسيس په نامه کميدی ؛ دماکسيم ګو رکي دمو ر په نامه ناول ؛ همدا شان روسی کلا سيک ليکوال تورګينف د لو مړ نی مينی ) رومان او امريکی کلا سيک ليکوال جان اشتن بيک د( انسا نان او مو ږګا ن ) ناول .

همدا شان د روسي کلا سيک ليکوال انتو ان چيخو ف دوه دري طنزي ليکنی چې تر تو لو يي د ( اصيل سپی ) طنزي ليکنه چې نژدی ځلويښت دقيقی لنډ کميد ی فلم تری جو ړ شو چې حاجی محمد کا مران يي مرکزي رول لوبو لی وو زما په يا د کي لا ژوندی دي . د دريو هنر ی فلمو نو سنا ريو ګا نی هر يو( تنکی هڅی ) ؛ لنډ فلم (کا غو ش چې ) ؛ او وروستی (دمعجزه ځر ګندونکی هنداری ) ما ليکلی وي چې ښاغلو سعيد ورکزي ؛ داکتر واحد نظري اورحمت الله خو ستي دايرکت کړی وي .

پوښتنه : يو شمير شاعرانو او ليکوالو د خپلو څيرنيزو او نوښتګرو کارونو او فعاليتونو لپاره د بهرنيو ليکوالو اثار، شعرونه او طنزونه ژباړلي دي ، ستاسي پر اند د بهرنيو اثارو ژباړه او يا زمونږ د اثارو ژباړه په نورو ژبو کې د پښتو ادب د ودې او پرمختګ لپاره څه اغيز لري؟ او دا راته ووياست چې تاسې بهرني اثار ژباړلي او کنه؟

ځواب :

علمي ؛ هنري او ادبي اثار که د يوې ژبې نه بلې ژبې ته ژبا ړل کيږي په حقيقت کې ژبا ړل شوی ژبه پری درنيږي او علمي دريځ يي بډ ای کيږي . نن هغه ژبې بډای شميرل کيږي چې دنړۍ علمي ؛ هنري اوادبي شهکا رونه پری ليکل شوي او يا ورته ژبا ړل شوی دي . دبد ه مرغه پښتو ژبې ته په دې برخه کې لږ کار شوی دی ځکه نو دنورو ژبو په پرتله نيستمنه پا تی ده .

هغه څه چې دبهرنیو لیکوالو اثا ر دري ژبې نه پښتو ته ما اړولي هغه ته مې په تیرى پوښتنى کې اشاره کړې ده .

پوښتنه : تاسې د ادبي نقد او کره کتنې او د ادبي او فرهنګي مرکزونود جوړولو په اړه په هېواد کې د ننه او بهر، چې د نورو ادبي څانګوالو تر څنګ واکیالي (باصلاحیته) څانګپوه کره کتونکي غړیتوب و لري، څه لید لرئ؟

ځواب :

د ادبي او هنري پنځونو د روغی ودى له پاره کره کتنه لکه دیو نا بینا له پاره د لاس لکړه یا امسا ده چې کندى ته یې د غور ځید و څخه بچوي . که چیرې دادبي هنري پنځو نو هستو نکي وپوهیږي چې داسې

مر کزونه شته چې د دوى پنځو نى د کره کتنى ذره بین لاندى نیسي کمزورى او نا سمی خوا وى یې جو توي او د سمو او منل شوو ادبي او هنري معیا رو نو په تله یې تلي نو پا یله به یې دا وي چې د

دغو ادبي او هنري اثار و هستونکي به په ډیر ژور غور دیو ادبي او هنري اثر لیکلو یا هستولو

ته زړه ښه کړي . نن مها ل د نقد یا کره کتنى نشت یوه لویه تشه ده .

دغه تشه ما د( نو ى لیکوال ) په نامه په خپل یو طنز کې په ډاګه کړې د ه .

پوښتنه : آیا تاسې د یو طنز لیکونکي په توګه په طنزي مجالسو او د طنزي لوبو په غونډو کې ګډون کړې او که نه؟ کمو ګډون کړئ دی کومې لاسته راوړنې مو لرلئ؟

ځواب :

زه په شپیتمو کلونو کې د افغا نستا ن دلیکوالو اتحا دیه د طنز دڅا نګې غړى وم هلته به مې په

ځینو ادبي غو نډو کې خپل طنزونه لوستل ؛ همدا شان دافغا نستا ن دکار کونکو ملی اتحادی

فرهنګي مرکز چې ما یې مشري په غاړه درلوده په هره میاشت کې به مو ادبي او هنري بنډارونه

جوړول په دغو ادبي بنډارونو کې به مې دهیواد د نورو لیکوالو تر څنګ خپل طنز ته ورته

لیکنى لوستى . په هماغه کلونو کې کلنى ادبي کانکور کې زما د ( پردى )په نامه طنز دویمه درجه

جایزه وګټله ؛ او اوس کله نا کله دګډوا ل ژوندانه په چاپیریال کې په ځینو غونډ و کې خپل دزړه براس

دطنز په ژبه وبا سم .

پوښتنه : په هیواد کې د ننه او بهر کوم نامتو طنز لیکونکي ستایې. د کومو بهرنیو او په هیواد کې د ننه لیکوالو آثار مو مطالعه کړې دي، د هغوى د آثار اغیز پر خپلو لیکنو څه ډول ارزوئ؟

ځواب :

تو لو عز یزا نو چې د طنز لیکنو تکل کړى دى او په دې برخه کې خپل وړتیا ازمایی تول

دستایلو وړ دي، خو د دوى څخه مخکښى څیرى په بهر کې چې زما یې طنزي تومنى خوښیږي

ښاغلی محمود نظري ؛ بصير پا کزاد ؛ وحيد صمد زی او د ننه په هيو اد کې جلا ل نوراني ؛ کاتب پا ځون دی ؛ منم چی نوی نسل طنز ليکو نکو به د هيو اد بهر او دننه په زړه پوری طنزي پنځونی لرلی وي دا به زما لټتيا وي چې ما يې په لوستو سترګی نه دي خوږی کړی ؛ ما د دغو بهر نيو ليکوالو طنز ی اثار لوستی دی : عزيز نسين؛ ا نتو ان چيخو ف ؛ موليړ ؛ عبيد زاد ګا نی ؛ اوبلغا ريايي طنز ليکونکو طنزونه چې ښا غلي زلمی نورا نی دري ژبی ته اړولی وو ؛ او د دغو هيواد والو ليکوالو طنزي ليکنی می لو لستی دي : اروا ښاد ګل پا چا الفت:؛ اروا ښاد عبدا لمننا ن ملګری؛ ښا غلی کا تب پا ځون ؛ ميرزا علم حميدي ؛ محمود نظري ؛ داکتر واحد نظري :؛ استا ذ طلا حبيب زی ؛ او د دري ژبی ليکوالو : جلا ل نو راني ؛ بصير پا کزاد ؛ دستګير نا يل ؛ فا روق عطا يي ؛ حميد مفيد ؛ وحيد صمد زی ؛ ها رون يو سفی ؛ اروح ښا د رازق فاني چې د دوی دټولو ښو طنزونو ځخه مې ګټه اخيستی ده .

پوښتنه : هر ليکوال ته خپل آثار ډير خوندور او په زړه پوري دي، خو بيا هم يو شمير ليکوال په خپلو آثارو کي خپل يو شمير آثارو ته غوره والې ورکوي . تاسي په خپلو آثارو کي کوم اثر زياتره خوښوئ؟

ځواب :

زما په باور هغه ادبي او هنري اثر چې په ټولنی کې د خلکو پام ورته واوړي دا په دې معنې ده چې اغيزه يې شيندلی ده ؛ زما دشپيتمو کلو نو طنزي ليکنو کې د ( پردی ) په نامه طنز چې په کال (1366) لمريز کې يې دويمه جايز ه وګټله او په اوياومو کلونوکې ( پردی ړيره) په نامه او په ورستی لسيزه کې د ( ځه چی ځو ) په نامه طنز چې زموږ د کډ وال ژوند انه دستو نز و سر ه تړاو لري او دلته په مسکو کې زما د وطن والو خوښ شوی وو ؛ او کله چې روسي ژباړه يې د روسي دليکوالو اتحا دی منشی ولوست د تر خی خندا تر ځنګ يې دخپل هيواد پوليسو نا جايزه کړنو ته يې تو کړل ؛ پور تنيو طنزونو اغيزه ما تر نور و ښه احسا س کړې نو طبعي خبره ده چې زما هم خو ښ شو ی دي .

پوښتنه : کوم طنزونه مو د راديو او تلويزون په خپرونو کې خپاره شوې دي؟

ځواب :

زما طنزي ليکني دافغا نستا ن د راديو تلو يزون په خپرنيز ارګان (اواز ) مجلی ؛( انيس ) ورځپانی او د راديو تلو يزون د هنر اوادبيا تو ادا ری په خپر ونو کې خپريدی .

پوښتنه : په هیواد کې د ننه او بهر په رایو او تلویزون کې یو شمیر طنزي برنامې خپریږي، تاسې په دې اړه څه نظر لرئ؟ او د رادیو او تلویزون د یوپخواني او آزمویلي غړي په توګه کومې لاربښوني او سپارښتونه لرئ؟

ځواب :

هو ؛ په هیواد کې د ننه او بهر تلویزوني خپرونو کې خند نې او تفریحي خپروني دخلکو دورځنی

ستړ یاوو د دمه کولو په غرض خپریږي ؛ هلته ډ یر ځلی دهنرمند موخه د خلکو خندول دي

او کله هم دخندا سره ډیر لږ سکنډ ل هم ملګری وي چې دطنز پولی ته رانژدی کیږي ؛ بله دا چې دغه

ټوکی او مسخری په لویدیزی ټو لنی کې دخپل ولس د اروح پوهنی او فرهنګي ارزښتونو سره په

اند ولتیا خپریږ ي ؛ خو دبده مرغه زمو ږ په ځوانو تلو یزوني خپرونو کې دا اصل د نه پا م کې نیول

د ابتذ ال پولی ته رسیږي او دهجو او هزل د بازار متاع ګرځي ؛ په داسې حال کې چې طنز یو

ظریف هنر دی چې دبې خوندو ټوکو او سپکو فکاهیو څخه پا ک او منزه دی ؛ د طنز خندا سړی

خند وی او بیا یی نا خوالو ته سترګی پرانیسی او فکر کولو ته یی ا ړ باسی . هیله ده چې زمونږ ه

تلویزوني انتقا دي خپرونی په ښه هنري انداز یا دی شوی طنزی تومنی ولري .

پوښتنه : زمونږ په هیواد کې طنزي آثار د خپلو ځانګړو مزایاوو او په خلکو یې د اغیز زیاتې کچې په درلودلو سره بیا هم په پښتو ادب کې څنګه چې لازمه ده خپل ځای نه دی موندلای . ستاسې په اند د دې لامل دک و دلیل څه دی؟ تاسې د یو ښه طنز لیکونکي په توګه په دې اړه څه لاربښوني لرئ؟

ځواب :

طنز او طنزي لیکنی د خپلو تعریفا تو په پام کې نیولو سره زمونږ په هیواد کې خو لا پریږده په

سیمه کې ډیر اوږد عمر نه لري ؛ په تیره بیا د پښتو په ادبي بهیر کې خو ډیر ځوان دی ؛ هلته کو زه

پښتو نخوا کې یې ځینی سړیکی یې تر ستر ګو شوی دي خو هغسې چې ننني تعریفا ت او قاعدی

یې غواړی چنداني ور سره سمون نه لري .دا چې ولې طنز دپشتو په ادب کې ځای نه دی موندلی ؛ زما

په اند طنز هغسې چې ښايي ټولنی ته تر اوسه نه دی ور پيژ ند ل شوی ؛ دلیکوالو په اتحا دیو او

نورو ادبي کړیو په فعا لیتونو کې څرنګه چې شعر ؛ لنده کیسه ؛ او نورو بر خو لوستو او اور يدو

غونډی او بنډارونه جوړیږی او په رسنو کې خپریږی طنز ورنه بې برخی دی ؛ هیله ده چې

دننه په هیواد کې او بهر دې نیمګرتیا ته ادبي او هنري کړی سترګی پر انیسي .

پوښتنه :تر هغه ځایه چې زه خبر یم ستاسې یو شمیر لیکل شوي نا چاپ آثار د کورنیو ورانونکو جګړو په وسیله په هیواد کې د ننه سوزیدلي دي . مهرباني وکړئ په دې اړه په لنده توګه معلومات راکړئ؟

ځواب :

هو ؛ دکور ورانونکو جګړو په لمبو کې چې د مجا هد ونو دښمنو ډ لو تر منځ پیل شوی وی د ژوندانه دسلګونو هستیو سره یو ځای زما دغه ادبي هنري زیرونی چې لسګونه تلویزوني او راډیویي نما یشنا می ؛ راډیو ډرامونه او د راډیو پر له پسی داستا نو نه اواتلس عنوانه طنزونه چې چاپ ته چمتو شوی وی ایره سول . د کډ وال په خپه چاپیر یال کې یې تر اوسه یا دوم او په دې لټه کې یم که چیرې زور ذهن راسره ملګرتیا وکړي بیا یې ولیکم .

پوښتنه : ستاسې د شپیتمې کلیزې په ویاړ په مسکو کې یوه درنه او پرتمینه غونډه جوړه شوې وه. هیله من یم چې په دې برخه کې خپل معلومات راسره شریک کړئ.

ځواب :

د (۲۰۱۳) زیږدیز کا ل د فبر وري په (15) نیټی زمونږ دکاري مرکز دفرهنګي کمیټی کاري پرګرام له مخی دلته په مسکو کې دافغا ن لیکوالو او شاعرانو او دروسی دلیکوالو د اتحادی ښاری او ولایتی څانګو د لیکوالو او شاعرانو سر ه په ګډه [ دافغا نستا ن او روسی د ادبیاتو ما ښام ] په نامه یو ادبي بنډار جو ړ شوی وو ؛ ددې ادبي بنډار موخه د روسی دلیکوالو د اتحا دی منشی ښاغلی خا ندیکوف دپنځو سو روباعی ګا نو ژباړ وه چې افغان لیکوال ښاغلی رحمت الله روند له خوا تر سره شوی وه . په دغه غونډ ه کې د دواړو له خوا په روسی او دري ژبو دغونډی ګډونو الو ته ولوستل شول چې وروسته بیا افغا ن او روسي شاعرانو خپل شعرونه ولوستل . څرنګه چې دغه ورځ زما د زیږیدو د (۶۰) کالیزی سره سمو ن درلود د روسی دلیکوالو اتحادی مشر تابه ډلی اوپه مسکو کې میشتو افغان فرهنګیانو اودګران هیواد نه زما عزیزانو اوهیواد نه بهر فرهنګیانو په مخامخ مبا رکیو او په راالیږل شویو مبا رکیو یې زه منت بار کړم ؛ او د روسی د لیکوالو اتحا دی ولایتی څا نګی زما د څلوېښت کالو فرهنګی فعالیتو نو په ستاینی دهغه اتحا دی په لوړ مدال وویاړلم .







پوښتنه : تاسي دیو طنز لیکونکي په توګه زموږ د هیواد اوسنی سیاسي، تاریخي اوکړکیچن حالات ځنګه څیړئ، اوزموږ لیکوالو او طنز لیکونو ته چي د هیواد هر پدیده یوه سوژه ده څه وړاندیزونه لرئ؟

ځواب :

دهیواد روان کړکیچنی جاری لویه غمیزه ده چي د ګا ونډ یو او لیرو پرتو هیوادو د سیا ستو نو په تقابل کي د خپل ستراتیژ یک موقعیت په درلودلو سره زموږ په هیواد او خلکو تپل شوی دی او دا دی هر ه ورځ تری قر با نی اخلي . دهیواد هر وطنپا ل بچی ته ښايي چي په هر شان چي کولای شي د دغی ناوړین د ماهیت څر نګوالی اوکورني او باندني لوبغا ړي خلکو ته ور وپیژني ؛ لیکوال ؛ شاعر ؛ انځور ګر ؛ طنز لیکونکی او سنیما ګر او نو ر د پورتني موخی له پاره ډیری سوژی موند لی شي چي په خپل ادبي او هنري وړتیا يي وروزي او دخلکو زړونو ته يی ورسوي .

پوښتنه : ستاسي پیغام د یو لیکوال په توګه دلر او بر پښتونخوا او په بهر کي ځوانو لیکوالو ، شاعرانو او طنز لیکونکو ته څه دی؟

ځواب :

زه دځوانو لیکوالو څخه چي په هیواد کي میشت دي او که جلا وطنه دي غواړم تر لیکلو د مخه

لوستلو ته لیوال شي ؛ په لوستلو پوهه بډایه کیږي او کله چې یې د پوهې په ګانې ځان سینګار کړ بیا یې د قلم څخه مرغلری څا ځي ؛ لوستل پای نه لري. زما په اند ډیر لوستل لږ لیکل به ښه وي .

ګران او قدرمن ننګیار صاحب ستاسو نه د زړه له کومې مننه کوم چې زما پوښتنو ته مو پوره او کره ځوابونه راکړل.

ستاسو نه هم ډیره ډیره مننه.

په ډیر درنښت او ادبي مینه : انجنیر عبدالقادر مسعود